# عبرانیانو ته لیک

## د کتاب پېژندنه

عبرانیانو ته دا لیک د کوم یهودي له خوا لیکل شوی دی، خو د لیکونکي نوم معلوم نه دی. دا لیک هغو یهودي ایماندارانو ته لیکل شوی دی چې د عیسی مسیح د مقام او کار د ناسمې پوهې په سبب غلطې لارې ته د اووښتلو په حال کې وو. نو په همدې سبب د دې لیک په پیل کې عیسی مسیح د خدای حقیقي او وروستنۍ مکاشفې په نامه معرفي شوی او دا ثابته شوې چې هغه د فرښتو، یهودي کاهنانو او موسی نه ډېر لوړ دی. لیکونکی درې ښکاره حقیقتونو ته اشاره کوي. لومړی: عیسی د خدای ازلي او ابدي زوی دی. دوهم: عیسی زمونږ لوی ابدي کاهن دی، نو هغه د زړې لوظنامې تر کاهنانو ډېر لوړ دی. دریم: عیسی چې اوس زمونږ لوی کاهن دی، ایمانداران د ګناه او د مرګ د وېرې نه ژغوري.

په دې کتاب کې د قربانیو اصول او د یهودي دین مراسم یوازې د دې لویې ژغورنې یو سیوری دی. لیکونکی د اسراییلو د لوړو شخصیتونو ایمان ته په اشارې سره لوستونکی دې ته هڅوي، ترڅو په خپل ایمان کې ټینګ ودرېږي. همدارنګه د هغوی څخه غواړي چې عیسی ته په کتلو سره د مصیبتونو په وخت کې خپل ایمان تر پایه پورې ټینګ وساتي. دا لیک د نصیحتونو او بې‌لارې کېدلو په هکله په خبردارېو سره پای ته رسېږي.

## د موضوعګانو لست

د خدای خبرې د خپل زوی په وسیله: ۱:۱–۳

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د فرښتو نه د مسیح لوی والی: ۱:۴ – ۲:۱۸

د موسی او یوشع نه د مسیح لوړوالی: ۳:۱ – ۴:۱۳

د مسیح د کاهنتوب لوړوالی: ۴:۱۴ – ۷:۲۸

د مسیح د لوظ او د قربانۍ لوړوالی: ۸:۱ – ۱۰:۱۸

د ایمان ښه والی: ۱۰:۱۹ – ۱۱:۴۰

د خښتن اصلاح: ۱۲:۱-۱۳

لارښوونې او خبرداری: ۱۲:۱۴ – ۱۳:۱۹

وروستنۍ دعاګانې او سلامونه: ۱۳:۲۰-۲۵

## د خدای خبرې د خپل زوی په وسیله

۱ ۱ خدای په تېره زمانه کې څو څو ځلې په مختلفو طریقو سره د خپلو پیغمبرانو په وسیله
زمونږ د نیکونو سره خبرې کړې دي. ۲ خو په دې اخرنیو ورځو کې یې د خپل زوی په وسیله
زمونږ سره خبرې کړې دي. هغه زوی چې خدای د ټولو شیانو وارث ټاکلی دی او د هغه په وسیله
یې نړۍ پیدا کړه. ۳ هغه د خدای د جلال ښکاره کوونکی او د هغه د کامل ذات تصویر دی او
هغه ټول کاینات د خپل کلام د قدرت په وسیله ساتي. کله چې هغه خلکو ته د خپلو ګناهونو څخه
د بخښنې لاره جوړه کړه، نو هغه په اسمان کې د مطلق قادر خدای ښي لاس ته کښېناست.

## مسیح د فرښتو نه لوی دی

۴ څرنګه چې مسیح د فرښتو نه ډېر لوی دی، نو خدای چې هغه ته کوم نوم ورکړی دی، هغه
هم د هغوی د نومونو نه ډېر لوی دی. ۵ ځکه چې خدای هېڅکله کومې فرښتې ته نه دي ویلي:

ته مې زوی، زه دې نن پلار شوم.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او یا دا:

زه به یم د هغه پلار

او هغه وي به زما زوی

۶ خو کله چې خدای لومړنی زېږېدلی نړۍ ته راولي، نو ورته وايي:

د خدای ټولې فرښتې دې د هغه عبادت وکړي.

۷ خو د فرښتو په هکله وايي:

خدای رالېږي خپلې فرښتې لکه بادونو په شان

او خپل خدمتګاران لکه د اور د لمبو په شان

۸ خو د خپل زوی په هکله وايي:

ای خدایه! تل ترتله به وي ستا د پاچاهۍ تخت

او کړې به حکومت په خپلو خلکو باندې

د انصاف له مخې

۹ ته خوښوې عدالت او کرکه کوې له بدۍ

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په دې خاطر خدای، یعنې ستا خدای

ته یې ستا د نورو ملګرو نه زیات

مسح کړی یې د خوشحالۍ په تېلو

۱۰ همدارنګه هغه وايي:

ای څښتنه، له شروع څخه دې اینبنې ؤ بنیاد د ځمکې

او اسمانونه دې کړل جوړ خپلو لاسونو باندې

۱۱ هغوی فنا به شي، خو ته به پاتې شې

هغوی به ټول زاړه شي لکه لباس په شان

۱۲ تاو راتاو به کړې هغوی لکه چپنې په شان

او بدل به یې کړې لکه لباس په شان

خو پاتې کېږې په خپل حال ته مدام

او پای به ونه لري هېڅ دا ستا دوران

۱۳ خو خدای هېڅکله هم کومې فرښتې ته نه دي ویلي:

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کښېښنه زما ښي لاس ته

ترڅو کړم ستا دښمنان ستا د پښو لاندې

۱۴ ايا ټولې فرښتې خدمتګار روحونه نه دي چې د هغو خلکو د خدمت دپاره رالېږل شوي چې
خلاصون به مومي؟

## لوی خلاصون

۲ ۱ له دې امله مونږ چې څه اورېدلي دي هغو ته بايد نور هم پام وکړو، هسې نه چې بې‌لارې
شو. ۲ ځکه کوم پيغام چې د فرښتو په وسيله ورکړل شوی ؤ، هغه د باور وړ ؤ او هره ګناه او
نافرمانی به خپله سزا ليدله. ۳ نو له دې امله که چېرې مونږ داسې لوی خلاصون له پامه
وغورځوو، بيا څنګه کولای شو چې د هغې د سزا نه وتښتو؟ دا خلاصون اول خپله د څښتن عيسی
له خوا اعلان شو او بيا د هغو خلکو له خوا تاييد شو چې د هغه خبرې يې اورېدلې وې. ۴
همدارنګه خدای هم دا پيغام د خپلو نښو، حيرانوونکو کارونو او ډول ډول معجزو په ښودلو او د
خپلې ارادې له مخې د روح القدس د نعمتونو په ورکولو سره تصديق کړ.

## زمونږ د خلاصون لارښود

۵ نو خدای فرښتو ته دا اختيار ورنه کړ چې په راتلونکې دنيا باندې چې مونږ يې په هکله
خبرې کوو، حکومت وکړي. ۶ بلکې د خدای د کلام په يو ځای کې ليکل شوي دي:

انسان څه دی چې ته يې خيال ساتې؟

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

فاني انسان چې ته پرې پام ساتې؟

٧ تا پیدا کړي هغوی ټیټ له فرښتو نه

د لږ وخت دپاره

او شان شوکت دې ورته ایښی په سر

٨ تا ورکړی واک او اختیار هغوی ته

ټولو شیانو باندې دی

اوس چې خدای هرڅه د هغوی تابع کړي دي، نو دا ښکاره ده چې نور هېڅ داسې شی پاتې نه دی
چې د هغوی په اختیار کې نه وي، خو تراوسه مونږ نه وینو چې هرڅه د انسان په اختیار کې وي.
٩ خو مونږ عیسی وینو چې د هغه مقام د لږ وخت دپاره د فرښتو څخه ټیټ کړای شوی دی،
خو اوس د جلال او عزت تاج د هغه په سر ایښودل شوی دی، ځکه چې هغه مرګ وزغملو، ترڅو
د خدای د فضل په وسیله د هر انسان په خاطر د مرګ خوند وڅکي.

١٠ نو خدای دا مناسب وګڼل چې د خالق په توګه چې ټول شیان د هغه دي او د هغه دپاره دي،
ډېر زامن جلال ته ورسوي. نو هغه عیسی چې د هغوی د خلاصون د لارې جوړوونکی دی، د
کړاوونو په زغملو سره کامل کړي. ١١ ځکه ثوک چې د خلکو ګناهونه پاکوي او هغه ثوک چې
ګناهونه یې پاکیږي، دواړه د یوې کورنۍ څخه دي. نو له دې امله عیسی په دې نه شرمیږي چې
هغوی ته خپل خویندې او ورونه ووایي. ١٢ هغه وایي:

زه به اعلان کړمه ستا نوم خپلو خلکو ته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د دوی غونډه کې به وکړم ستا ثنا او صفت

۱۳ همدارنګه هغه وايي:

زه به توکل وکړم په خدای باندې

بيا وايي:

زه دلته يمه د هغوی د اولادونو سره

چې خدای راکړي راته

۱۴ څرنګه چې د خدای اولادونه انسانان دي او د غوښې او وينې څخه جوړ شوي دي، نو عيسی
هم د هغوی په شان انسان شو، ترڅو د خپل مرګ په وسيله هغه څوک له منځه يوسي چې په مرګ
باندې يې واک درلود، يعنې شيطان ۱۵ او هغه خلک ازاد کړي چې د مرګ له وېرې يې خپل ټول
ژوند په غلامۍ کې تېراوه. ۱۶ بې له شکه چې هغه د فرښتو سره د مرستې دپاره نه بلکې د
ابراهيم د اولادې سره د مرستې په خاطر راغلی دی. ۱۷ له همدې امله د هغه دپاره په هر لحاظ
لازم ؤ چې د خپلو ورونو په شان شي، ترڅو وکولای شي چې خدای ته په خدمت کولو کې يو
رحم کوونکی او لوی وفادار کاهن شي او وکولای شي چې د خلکو د ګناهونو کفاره ورکړي. ۱۸
څرنګه چې عيسی خپله د ازمېښت په وخت کې کړاوونه وزغمل، نو هغه کولای شي چې د هغو
خلکو سره مرسته وکړي چې د ازمېښت سره مخ دي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## عیسی د موسی نه ډېر لوی دی

۳ ۱ نو ای سپېڅلو خویندو او ورونو، تاسو چې د خدای له خوا په اسماني بلنه کې شریک یئ،
د عیسی په هکله فکر وکړئ چې د هغه په اړه مونږ اقرار کوو چې زمونږ رسول او لوی کاهن دی.
۲ عیسی خدای ته وفادار ؤ چې هغه یې ټاکلی ؤ، لکه څنګه چې موسی د خدای په ټول کور
کې وفادار ؤ. ۳ نو عیسی د موسی نه زیات د جلال لایق دی، لکه څنګه چې کور جوړوونکی د
کور نه زیات عزت لري. ۴ ځکه چې هر کور د یو چا په لاس جوړیږي او خدای د ټولو شیانو
جوړوونکی دی. ۵ موسی د خدای په ټول کور کې د یو خدمتګار په توګه وفادار ؤ او د هغو
شیانو په هکله به یې شاهدي ورکوله چې خدای به یې په راتلونکې کې ووایي. ۶ خو عیسی د
زوی او د کور د خاوند په توګه د خدای د کور وفادار دی. مونږ د هغه کور یو، په دې شرط چې که
مونږ هغه پوره ډاډ او ویاړ چې مونږ ته هیله راکوي، ټینګ وساتو.

## د خدای د قوم دپاره ارامي

۷ نو لکه څنګه چې روح القدس وایي:

«که چېرې واورئ نن تاسو د خدای اواز

۸ نو مه سختوئ خپل زړونه

لکه چې څنګه سرکښي وکړه د خدای په وړاندې

ستاسو پلرونو

او هغه یې وازمایلو دښته کې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۹ که څه هم هغه کارونه چې ما کړي وو

څلوېښتو کالو کې، هلته ولیدل ستاسو پلرونو

خو بیاهم هغوی زه وازمایلم

۱۰ نو زه په قهر شوم هغه نسل ته او ومې ویل:

زما نه لېرې دي تل د هغوی زړونه

او نه غواړي چې وکړي عمل زما په حکمونو باندې

۱۱ زه شوم په قهر او قسم مې وخوړ:

‹داخل به نه شي دوی هېڅکله هغه ځای ته

چېرته چې زه به ورکومه ارامي ورته›»

۱۲ نو خویندو او ورونو، پام کوئ چې په تاسو کې دې د چا زړه داسې بد او بې‌ایمانه نه وي چې
د ژوندي خدای څخه واوړي. ۱۳ بلکې هره ورځ یو بل هڅوئ، په داسې حال کې چې اوس هم
موقعه شته چې په تاسو کې دې د ګناه د غولولو په وسیله د هیچا زړه سخت نه شي. ۱۴ ځکه که
چېرې مونږ تر اخره پورې په هغه باور واوسو چې د پیل نه مو درلود، نو مونږ به د عیسی سره
ملګري شوي یو.

۱۵ لکه څنګه چې د خدای په کلام کې ویل شوي دي:

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

«که چېرې نن تاسو اواز واورئ د خدای

نو مه سختوئ خپل زړونه

لکه څنګه چې ستاسو پلرونو د سرکښۍ په وخت کې وکړل»

۱۶ نو بيا هغوی څوک وو چې سره له دې چې د خدای اواز يې واورېد، خو بيا يې هم د هغه په
وړاندې سرکښي وکړه؟ ايا دا هماغه خلک نه وو چې موسی د مصر څخه راوويستل؟ ۱۷ او
خدای د چا نه تر څلوېښتو کالو پورې خفه ؤ؟ ايا دا هغه خلک نه وو چې ګناه يې وکړه او مړي يې
په دښته کې پراته وو؟ ۱۸ او چاته يې قسم وخوړ چې هغوی به هېڅکله هم هغې ارامۍ ته وردننه
نه شي؟ ايا دا هغه خلک نه وو چې د خدای د امر څخه يې سرغړونه وکړه؟ ۱۹ نو مونږ وينو چې
هغوی ونه شو کولای هغې ارامۍ ته وردننه شي، ځکه چې هغوی ايمان نه درلود.

۴ ۱ څرنګه چې د خدای ارامۍ ته د وردننه کېدلو په هکله د هغه وعده لا تراوسه په خپل
حال پاتې ده، نو بايد پام وکړو، هسې نه چې په تاسو کې کوم څوک هغې ته په رسېدلو کې ناکام
شوی وي. ۲ دا زېرى چې مونږ واورېد، هغوی هم اورېدلی ؤ، خو هغه پيغام چې هغوی واورېد،
هغوی ته يې ګټه ونه رسوله، ځکه چې هغه پيغام يې په ايمانداری سره قبول نه کړ. ۳ خو مونږ
چې ايمان لرو، کولای شو د هغه ارامۍ ته ورننوځو. خو د دې نورو په هکله خدای وويل:

«ما د خپل قهر په حال کې وخوړ قسم

داخل به نه شي دوی هېڅکله هغه ځای ته

چېرته چې زه به ورکومه ارامي ورته»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

که څه هم د خدای کار د کایناتو د پیدایښت په اړه پای ته رسېدلی ؤ. ۴ ځکه چې د خدای د
کلام په یو ځای کې د اوومې ورځې په هکله داسې لیکل شوي دي: «په اوومه ورځ خدای خپل
ټول کارونه خلاص کړل او ارام یې وکړ.» ۵ او په همدې ځای کې خدای یوځل بیا وایي:

«داخل به نه شي دوی هېڅکله هغه ځای ته

چېرته چې زه به ورکومه ارامي ورته»

۶ نو ځینې خلک دا موقعه لري چې هغه ارامۍ ته وردننه شي، خو هغوی چې اول یې دا زېری
واورېد، وردننه نه شول ځکه چې سرغړونه یې وکړه. ۷ نو بیا خدای یوه بله ځانګړې ورځ یعنې
«نن ورځ» ټاکي، ځکه چې وروسته له ډېرې مودې هغه د داود په وسیله خبرې کړې وې او لکه
څنګه چې مخکې ویل شوي وو:

«که چېرې نن تاسو اواز واورئ د خدای

نو مه سختوئ خپل زړونه»

۸ که چېرې یوشع کولای شوی هغو خلکو ته هغه ارامي ورکړې، نو خدای به وروسته د بلې
ورځې په هکله خبرې نه وای کړې. ۹ نو بیا د خدای د خلکو دپاره د سبت ارامي تراوسه هم په
خپل حال پاتې ده. ۱۰ ځکه کومو خلکو چې هغه ارامي موندلې ده چې خدای یې وعده کړې وه،
نو د خپلو کارونو څخه به هم ارام ومومي، لکه څنګه چې خدای د خپلو کارونو څخه وموند.

۱۱ نو راځئ چې ډېر کوښښ وکړو چې هغه ارامي ترلاسه کړو. خو که چېرې مونږ سرغړونه
وکړو لکه څنګه چې د اسراییلو خلکو کړې وه، نو مونږ به هم ناکام شو. ۱۲ ځکه چې د خدای

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کلام ژوندی او اغېزناک دی او د هرې دوه‌مخې تورې نه ډېر تېره دی. هغه د انسان روح او نفس،
بندونو او د هډوکو مغزو ته ورننوځي او د انسان نیت او د زړه خیالونه ښکاره کوي. ۱۳ په ټولو
مخلوقاتو کې هېڅ شی د خدای د نظر څخه پټ نه دی. ټول شیان د هغه د سترګو په وړاندې لوڅ او
ښکاره پراته دي او مونږ ټول باید هغه ته حساب ورکړو.

## عیسی زمونږ ډېر لوی کاهن دی

۱۴ نو څرنګه چې مونږ ډېر لوی کاهن لرو چې اسمانونو ته پورته شوی دی یعني عیسی چې د
خدای زوی دی، نو راځئ چې د خپل ایمان په اقرار باندې ټینګ پاتې شو. ۱۵ ځکه چې زمونږ
لوی کاهن داسې نه دی چې زمونږ په کمزورتیاوو کې زمونږ سره خواخوږي ونه کړي بلکې هغه
زمونږ په شان په هر شي کې وازمایل شو، خو ګناه یې ونه کړه. ۱۶ نو راځئ چې په پوره باور
سره د خدای د فضل تخت ته ورنژدې شو، ترڅو رحم ومومو او د اړتیا په وخت کې د هغه فضل
حاصل کړو ترڅو زمونږ سره مرسته وکړي.

۵ ۱ هر لوی کاهن د خلکو له منځ نه د دې دپاره ټاکل کیږي چې د خدای په حضور کې د
خلکو استازیتوب وکړي او د انسانانو د ګناهونو دپاره نذرانې او قربانۍ وړاندې کړي. ۲ هغه
کولای شي چې د ناپوهو او بې‌لارې خلکو سره په نرمۍ چلند وکړي، ځکه چې هغه په خپله د
کمزورتیاوو سره مخ دی. ۳ له همدې امله هغه مجبور دی چې یوازې د خلکو د ګناهونو دپاره
نه بلکې د خپل ځان د ګناهونو دپاره هم قرباني وړاندې کړي. ۴ هېڅوک نه شي کولای چې د
خپل ځان دپاره دا عزت حاصل کړي چې کاهن شي، بلکې هغه باید د خدای له خوا وغوښتل شي
لکه څنګه چې هارون وغوښتل شو. ۵ په همدې ډول مسیح هم د لوی کاهن عزت په خپله
حاصل نه کړ، بلکې هغه د خدای له خوا وټاکل شو چې ورته ویې ویل:

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ته مې زوی، زه دې نن پلار شوم

۶ همدارنګه هغه په بل ځای کې وايي:

ته به کاهن يې تر ابده د ملک‌صدق په شان

۷ کله چې عيسی د ځمکې په مخ ژوند کاوه، نو په ډېرو چيغو او اوښکو تويولو سره خدای ته
چې په دې قادر ؤ هغه د مرګ نه وژغوري، دعاګانې او زارۍ وکړې او دعاګانې يې قبولې شوې،
ځکه چې هغه په پوره توګه خپل ځان خدای ته سپارلی ؤ. ۸ که څه هم هغه د خدای زوی ؤ،
خو د دردونو او کړاوونو په زغملو سره يې اطاعت کول زده کړل. ۹ کله چې هغه کامل کړای
شو، نو د هغو ټولو خلکو دپاره د ابدي خلاصون سرچينه شوه چې د ده اطاعت کوي ۱۰ او هغه د
خدای له خوا د ملک‌صدق په شان لوی کاهن وټاکل شو.

## د ايماندارانو روحاني پوخوالی

۱۱ په دې هکله زمونږ سره د ويلو دپاره ډېرې خبرې شته، خو ډېره سخته ده چې تاسو ته بيان
شي، ځکه چې تاسو په هغو باندې د پوهېدلو کوښښ نه کوئ. ۱۲ دا وخت بايد تاسو استاذان
وئ، خو اوس هم يو کس ته اړتيا لرئ چې تاسو ته د خدای د کلام بنيادي اصول درزده کړي. تاسو
د ماشومانو په شان شيدو ته اړتيا لرئ، نه قوي خوړو ته. ۱۳ ځکه چې هرڅوک چې يوازې
شيدې خوري، هغه لا ماشوم دی او په ښو او بدو نه پوهيږي. ۱۴ خو قوي خواړه د بالغو او پخو
خلکو دپاره دي چې د روزنې او تمرين له لارې کولای شي چې د ښو او بدو ترمنځ فرق وکړي.

۶ ۱ نو راځئ چې د مسيح په هکله لومړنی تعليم پرېږدو او د کاملتوب خواته لاړ شو. د دې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اړتیا نشته چې مونږ دې بیا بیا هغه لومړني تعلیمونه تکرار کړو لکه د بدو کارونو نه توبه ویستل او
په خدای باندې ایمان راوړل، ٢ د تعمید د غسلونو تعلیم او په سر د لاس ایښودلو تعلیم، د مړو
نه د بیا راژوندي کېدلو او تلپاتې قضاوت په هکله تعلیم. ٣ که د خدای رضا وي، نو مونږ به
همدا کارونه کوو. ٤ ځکه په هغوی باندې چې یوځل د خدای د نوررڼایي راغلې ده، د اسماني
نعمتونو خوند یې څکلی دی او په روح القدس کې شریک شوي دي، ٥ د خدای د کلام ښه‌والی
او د راتلونکې زماني قدرتونه یې تجربه کړي دي ٦ او که د خدای د لارې څخه وګرځي، نو دا
ناشونې ده چې هغوی به بېرته توبې ویستلو ته تیار کړای شي، ځکه چې هغوی یوځل بیا د خدای
زوی په صلیب باندې مېخ کوي او د خلکو په مخکې یې شرموي.

٧ هغه ځمکه چې باران ورباندې وریږي او هغه جذب کړي او د کرونکو دپاره ګټور حاصل
ورکړي، نو د خدای له خوا برکت مومي. ٨ خو که هغه ځمکه اغزي او هرزه بوټي شنه کوي، نو
دا بې‌ګټې ځمکه ده او زر به د خدای لعنت پرې وشي او په پای کې به هغه وسوځول شي.

٩ ګرانو دوستانو! سره له دې چې مونږ داسې خبرې کوو، خو ستاسو په هکله مونږ ډاډمن یو
چې د خلاصون سره یوځای به د ډېرو ښو برکتونو څخه برخمن شئ. ١٠ خدای بې‌انصافه نه دی.
هغه به ستاسو کار او هغه مینه هېره نه کړي چې د هغه د نوم سره مو د هغه خلکو ته په خدمت کولو
سره چې اوس یې هم کوئ ښودلې ده. ١١ مونږ ستاسو هر یو څخه ډېر غواړو چې همدا لېوالتیا
تر اخره وساتئ، ترڅو ستاسو هیله چې د کوم شي دپاره یې لرئ، هغه پوره شي. ١٢ مونږ نه
غواړو چې تاسو دې لټان اوسئ، بلکې غواړو چې د هغو خلکو د مثال څخه پیروي وکړئ چې د
ایمان او صبر په وسیله هغه څه ترلاسه کړي چې خدای یې وعده کړې ده.

## د خدای وعده هیله‌مندي پیدا کوي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۳ کله چې خدای د ابراهیم سره وعده وکړه، نو په خپل نوم يې قسم وخوړ، ځکه چې د هغه
څخه بل څوک لوی نه ؤ چې د هغه په نوم يې قسم خوړلی وای. ۱۴ هغه وويل: «زه به په رښتيا
سره تاته برکت درکړم او ستا اولادونه به زيات کړم.» ۱۵ نو ابراهيم په صبر سره انتظار وکړ او
هغه څه يې ترلاسه کړ چې خدای ورسره وعده کړې وه. ۱۶ کله چې انسانان قسم خوري، نو د
خپل ځان څخه په لوی شي قسم خوري او همدا قسم د شخړو د پای ته رسېدلو سبب ګرځي. ۱۷
همدارنګه خدای غوښتل چې په روښانه ډول هغو خلکو ته چې وعده يې ورسره کړې وه دا وښايي
چې د هغه اراده نه بدلېدونکې ده، نو هغه يې د قسم په خوړلو سره تاييد کړه. ۱۸ دلته دا دوه
شيان دي چې نه بدلېدونکي دي، ځکه چې دا ناشونې ده چې خدای د هغو په هکله دروغ ووايي. نو
مونږ چې هغه ته پناه وړې ده په ډېرې زړورتيا سره هغه هيله ټينګه ساتو چې زمونږ په وړاندې
موجوده ده. ۱۹ دا هيله چې مونږ يې لرو هغه زمونږ د ځانونو دپاره د يو قوي لنګر په شان دی.
او دا داسې قوي او خوندي هيله ده چې مونږ د خدای د کور د پردې له لارې دننه ډېر سپېڅلي
ځای ته رسوي، ۲۰ يعنې هغه ځای ته چې عيسی زمونږ نه مخکې زمونږ دپاره هلته لاړ او د تل
دپاره د ملک‌صدق په شان لوی کاهن شو.

## ملک‌صدق کاهن د مسيح يو مثال

۷ ۱ ملک‌صدق د ساليم پاچا او د خدای تعالی کاهن ؤ. کله چې ابراهيم پاچاهانو ته د ماتې
ورکولو نه وروسته بېرته راغی، نو ملک‌صدق د هغه سره مخامخ شو او هغه ته يې برکت ورکړ ۲
او هرڅه چې ابراهيم په جنګ کې ترلاسه کړي وو، د هغو لسمه برخه يې ملک‌صدق ته ورکړه. د
ملک‌صدق د نوم لومړنی معنی «صادق پاچا» او بيا د ساليم پاچا يعنې «د سولې او سلامتۍ پاچا»
دی. ۳ هغه بې‌پلاره، بې‌موره او بې‌شجرې دی. د هغه د ژوند پيل او پای نه دی معلوم. خو هغه د
خدای د زوی په شان تل ترتله کاهن دی.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴ ګورئ چې ملک‌صدق څومره لوی انسان ؤ، تر دې چې زمونږ نیکه ابراهیم ورته د خپل
غنیمت لسمه برخه ورکړه. ۵ شریعت د لاوي اولادې ته چې د کاهنۍ مقام ته رسیږي، حکم
کوي چې د اسراییلو د خلکو یعنې خپل قوم څخه لسمه برخه راټوله کړي، که څه هم هغوی د
ابراهیم اولاده ده. ۶ سره له دې چې ملک‌صدق د لاوي د اولادې څخه نه دی، خو هغه د
ابراهیم نه لسمه برخه واخیستله او ابراهیم ته یې چې خدای ورسره وعده کړې وه، برکت ورکړ. ۷
په دې کې شک نشته چې برکت ورکوونکی د برکت اخیستونکي نه ډېر لوی دی. ۸ له یوې خوا
هغه کاهنان چې لسمه برخه راټولوي، فاني انسانان دي او له بلې خوا ملک‌صدق چې لسمه برخه یې
واخیستله، ژوندی دی لکه څنګه چې د خدای په کلام کې ویل شوي دي. ۹ نو ویلی شو چې
کله ابراهیم لسمه برخه ورکوله، لاویانو هم چې د لسمې برخې اخیستونکي وو، د ابراهیم په وسیله
ملک‌صدق ته لسمه برخه ورکړه. ۱۰ ځکه کله چې ملک‌صدق د ابراهیم سره ولیدل، نو لاوي لا د
ابراهیم په کورنۍ کې نه ؤ پیدا شوی.

۱۱ دا د لاویانو د کاهنتوب په وسیله ؤ چې د اسراییلو خلکو ته شریعت ورکړل شوی ؤ. نو که
چېرې د لاوي کاهنانو کار پوره شوی وای، نو بیا د بل کاهن راتللو ته څه اړتیا وه چې د
ملک‌صدق په شان وي، نه د هارون په شان. ۱۲ ځکه کله چې په کاهنتوب کې بدلون رامنځته
شي، نو په شریعت کې هم باید بدلون رامنځته شي. ۱۳ نو د چا په هکله چې دا خبرې شوې دي
هغه د بلې قبیلې څخه ؤ او د هغې قبیلې څخه هېچا هم د قربانۍ د ځای خدمت نه ؤ کړی. ۱۴
ځکه دا ښکاره ده چې زمونږ څښتن د یهودا د قبیلې څخه دی. سره له دې چې موسی هېڅکله د
کاهنتوب په هکله د هغوی سره خبرې نه دي کړې.

۱۵ دا موضوع په نوره هم ښه روښانه شي کله چې د ملک‌صدق په شان کوم بل کاهن راپیدا شي.
۱۶ هغه کاهن شو، خو د هغو قوانینو له مخې نه چې هغه به د لاوي کورنۍ کې پیدا شي، بلکې د
هغه ژوند د قدرت په وسیله چې هېڅکله نه ختمیږي. ۱۷ ځکه چې د خدای کلام د هغه په هکله

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

داسې شاهدي ورکوي:

«ته به کاهن یې تر ابده د ملک‌صدق په شان»

۱۸ نو پخواني حکمونه باطل شول، ځکه چې هغه کمزوري او بې‌اثره وو، ۱۹ ځکه چې شریعت
هېڅ شی کامل نه کړ. خو اوس له مخکې نه یوه ښه هیله پیدا شوه چې د هغې په وسیله مونږ خدای
ته نژدې کېدای شو.

۲۰ دا نوی کاهنتوب د قسم په خوړلو سره پیل شو، خو نور بې له کوم قسم نه کاهنان شول. ۲۱
خو عیسی په قسم خوړلو سره کاهن شو، کله چې خدای هغه ته وویل:

څښتن قسم خوړلی

مات به نه شي هېڅ وخت

چې تر ابده به ته یې کاهن

۲۲ د همدې قسم له امله عیسی د خدای سره له مخکې نه د یو ښه لوظ ضامن شو.

۲۳ په پخوا زمانه کې زیات شمېر کاهنان راغلل، ځکه چې مرګ هغوی نه پرېښودل چې خپل
خدمت ته دوام ورکړي، ۲۴ خو د عیسی کاهنتوب د تل دپاره دی، ځکه چې هغه تل ترتله
ژوندی دی، ۲۵ نو له دې امله عیسی کولای شي هغو خلکو ته چې د هغه په وسیله خدای ته
نژدې شي، په پوره توګه خلاصون ورکړي، ځکه چې هغه تل ترتله ژوندی دی او د هغوی شفاعت
کوي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۶ نو مونږ داسې لوی کاهن ته اړتيا لرو چې هغه سپېڅلی، بې‌ګناه، بې‌عيبه، د ګناهکارانو نه بېل
او د اسمانونو نه اوچت وي. ۲۷ هغه دې ته اړتيا نه لري چې د نورو لويو کاهنانو په شان هره
ورځ اول د خپلو ګناهونو دپاره او بيا د خلکو د ګناهونو دپاره قرباني ورکړي، ځکه چې هغه خپل
ځان يوځل او د تل دپاره قرباني کړ. ۲۸ شريعت داسې خلک د لويو کاهنانو په توګه ټاکي چې په
روحاني توګه کمزوري وي، خو د شريعت نه وروسته خدای د قسم په خوړلو سره خپل زوی کاهن
وټاکه چې د تل دپاره کامل کړی شوی دی.

## عيسی زمونږ لوی کاهن

**۸** ۱ اوس چې مونږ کومې خبرې کوو په هغو کې مهم ټکی دا دی چې مونږ يو داسې لوی
کاهن لرو چې په اسمانونو کې د مطلق قادر خدای د تخت ښي لاس ته ناست دی. ۲ هغه په
هغه سپېڅلي ځای او هغې حقيقي خېمه کې خدمت کوي چې د څښتن له خوا جوړه شوې ده، نه د
انسان په لاس. ۳ څرنګه چې هر لوی کاهن د دې دپاره ټاکل شوی دی چې خدای ته نذرانې او
قربانۍ وړاندې کړي، نو زمونږ د لوی کاهن سره هم بايد د ورکولو دپاره يو څه وي. ۴ که چېرې
عيسی لا تراوسه هم د ځمکې په مخ ژوند کولای، نو هغه به کاهن نه وای، ځکه چې نور کاهنان هم
شته چې د شريعت له مخې نذرانې وړاندې کړي. ۵ هغوی چې په سپېڅلي ځای کې کوم خدمت
کوي، هغه يوازې يوه نمونه او د اسماني شيانو يو تصوير دی. ځکه کله چې موسی غوښتل خېمه
جوړه کړي، نو هغه ته د خدای له خوا لارښوونه وشوه: «پام کوه چې هرڅه د هغې نمونې له مخې
جوړ کړې چې د غره په سر باندې مې درته وښودله.» ۶ خو عيسی ته چې کوم کار ورسپارل
شوی ؤ چې د کاهن په توګه خدمت وکړي، هغه د هغو کارونو نه ډېر مهم دی چې هغوی کول، ځکه
چې دا لوظ چې هغه د خدای او انسان ترمنځ منځګړتوب کوي ډېر ښه دی او له مخکې نه په ډېرو
ښو وعدو باندې ولاړ دی. ۷ که چېرې په لومړني لوظ کې کوم عيب نه وای، نو دوهم لوظ ته به

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اړتیا نه وای. ۸ خو کله چې خدای په خپل قوم کې غلطي پیدا کړه، نو داسې یې وویل:

ښتن وايي: «هغه ورځ به رارسیږي کله چې د اسراییلو او یهودا د خلکو سره نوی لوظ وکړم. ۹
خو دا لوظ به د هغه لوظ په شان نه وي چې د هغوی د نیکونو سره مې کړی ؤ. په هغه ورځ چې ما
د هغوی لاسونه ونیول او د مصر څخه مې راوویستل، ځکه چې هغوی زما لوظ ته وفادار پاتې نه
شول.»

ښتن وايي: «نو بیا ما خپل مخ له هغوی هم واړاوه.»

۱۰ او همدارنګه ښتن وايي: «دا هغه لوظ دی چې زه به یې په راتلونکې کې د اسراییلو د خلکو
سره وکړم. زه به خپل شریعت د هغوی په ذهنونو کې واچوم او د هغوی په زړونو کې به یې ولیکم.
زه به د هغوی خدای یم او هغوی به زما قوم وي. ۱۱ نور به هغوی خپل ګاونډي او ورور ته دا
تعلیم نه ورکوي او ورته به نه وايي: ‹ښتن وپېژنه،› ځکه چې لوی او واړه ټول به ما پېژني. ۱۲
نو زه به د هغوی بدۍ او خطاګانې وبخښم او نور به د هغوی ګناهونه نه یادوم.»

۱۳ کله چې خدای د نوي لوظ په هکله خبرې کوي، نو لومړنی لوظ باطلوي او کوم شی چې
باطل او زوړ شي هغه زر له منځه ځي.

## ځمکنی او اسمانی عبادت

**۹** ۱ په لومړني لوظ کې د عبادت اصول او ځمکنی عبادتځای شامل وو. ۲ نو هغه خېمه
جوړه شوه او په هغې کې دوه کوټې وې. په لومړنۍ کوټه کې څراغدان او یو مېز ؤ چې په هغه
باندې به خدای ته سپېڅلې ډوډۍ وړاندې کېدله. دا کوټه د سپېڅلي ځای په نوم يادېدله. ۳ هلته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

یوه پرده وه او د پردې شاته دوهمه کوټه وه چې د ډېر سپېڅلي ځای په نوم یادېدله. ۴ په دې
کوټه کې د سرو زرو د خوشبویۍ د سوځولو د قربانۍ ځای او د لوظ صندوق ؤ چې په سرو زرو
پوښل شوی ؤ. په دې صندوق کې د سرو زرو یو لوښی ؤ چې د من ډوډۍ په کې وه، د هارون امسا
چې غوټۍ یې نیولې وې او د تیږو دوه لوحې وې چې حکمونه ورباندې لیکل شوي وو. ۵ د
صندوق دپاسه د جلال نه ډک جوړ شوي اسماني مخلوقات وو چې د کفارې ادا کولو په ځای
باندې یې وزرونه خواره کړي وو. خو اوس مونږ نه شو کولای د دې شیانو په هکله په تفصیل سره
خبرې وکړو.

۶ کله چې دا ټول شیان تیار شول، نو کاهنان به هر وخت لومړنۍ کوټې ته ورننوتل، ترڅو خپلې
وظیفې سرته ورسوي، ۷ خو یوازې لوی کاهن به په کال کې یوځل دوهمې کوټې ته ورننوتلو او
د ځان سره به یې وینه وړله چې د خپل ځان او د خلکو د ګناهونو په خاطر چې په ناپوهۍ کې به
ورڅخه کېدلې، هغه قربانۍ وړاندې کړي. ۸ په دې ډول روح القدس به دا ښودل چې تر هغې
پورې به ډېر سپېڅلي ځای ته د ورننوتلو لاره خلاصه نه شي، ترڅو پورې لومړنۍ کوټه ولاړه وي.
۹ دا د اوسنۍ زمانې دپاره یو مثال دی او دا په دې معنی ده چې هغه نذرانې او قربانۍ چې
خدای ته وړاندې کېدلې، نه شي کولای د عبادت کوونکي وجدان کامل او ارام کړي. ۱۰ دا یوازې
خوړل او څښل او د پاکوالي ډول ډول مراسم او قوانین دي چې د انسان د بدن سره اړیکه لري او
تر هغه وخته به کارول کېږي ترڅو ټول شیان اصلاح شي.

۱۱ خو کله چې مسیح د لوی کاهن په توګه د هغو ښو شیانو دپاره چې پېښ شوي دي او لا
تراوسه موجود دي، راغی، نو هغه هغې لویې او کاملې خیمې ته چې د انسان په لاس نه ده جوړه
شوې او د دې نړۍ سره تړاو نه لري، ننوت. ۱۲ هغه یوځل او د تل دپاره د وزو او خوسیانو د
وینې سره هغه ډېر سپېڅلي ځای ته وردننه نه شو، بلکې د خپلې وینې سره هلته ننوت او مونږ ته
یې د تل دپاره خلاصون ترلاسه کړ. ۱۳ که چېرې د وزو او غویانو په وینو او د خوسکي د ایرو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په شیندلو سره د خلکو ناپاکه بدنونه پاکېدلی شي، ۱۴ نو څومره به د مسیح په وینه چې خپل
ځان يې د کاملې او بې‌عیبه قربانۍ په توګه د ابدي روح په مرسته خدای ته وړاندې کړ، وکولای
شي زمونږ وجدان د بې‌ګټې عملونو نه چې د مرګ سبب ګرځي پاک کړي، ترڅو وکولای شو چې د
ژوندي خدای خدمت وکړو.

۱۵ له همدې امله مسیح د خدای او خلکو ترمنځ د نوي لوظ منځګړتوب کوي، ترڅو هغه خلک
چې خدای رابللي دي، هغه تلپاتې میراث ترلاسه کړي چې خدای ورسره وعده کړې ده. ځکه چې
هغه د دې دپاره مړ شو، ترڅو هغوی د هغو ګناهونو نه خلاص کړي چې د لومړني لوظ په وخت
کې يې کړي وو.

۱۶ د یوې وصیتنامې د کارولو دپاره ضروري ده چې دا ثابته شي چې وصیت کوونکی مړ شوی
دی، ۱۷ ځکه چې وصیت‌نامه د مرګ نه وروسته اعتبار لري او ترڅو پورې چې وصیت کوونکی
ژوندی وي، وصیت‌نامه اعتبار نه لري.

۱۸ له همدې امله لومړني لوظ هم د وینې تویېدلو نه پرته نه شو کولای چې اعتبار ولري، ۱۹
ځکه کله چې موسی د شریعت ټول حکمونه خلکو ته ورسول، نو هغه د خوسیانو او وزو وینه
واخیستله او د اوبو سره يې په سرې وړۍ او د وېلنې د ځانګو په وسیله يې د تورات په کتاب او
خلکو باندې وشیندله، ۲۰ او ویې ویل: «دا وینه د هغه لوظ نښه ده چې خدای ستاسو سره کړی
دی چې د هغه اطاعت وکړئ.» ۲۱ په همدې ډول هغه دا وینه په خېمه او هغو شیانو باندې هم
وشیندله چې د عبادت دپاره ترې کار اخیستل کېده. ۲۲ په حقیقت کې د شریعت له مخې نږدې
ټول شیان د وینې په وسیله پاکیږي او بې له وینې تویولو ګناهونه نه بخښل کیږي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د عیسی قرباني ګناهونه لیرې کوي

۲۳ نو که چېرې دا شیان چې د اسماني حقیقتونو یوه نمونه ده، باید په دې ډول پاک شي، نو خپله
اسماني شیان باید له دې نه په ډېرو ښو قربانیو باندې پاک شي، ۲۴ ځکه چې مسیح هغه سپېڅلي
ځای ته وردننه نه شو چې د انسان په لاس جوړ شوی ؤ او یوازې د هغه رښتیني عبادتځای یوه
نمونه وه، بلکې خپله اسمانونو ته وردننه شو، ترڅو اوس زمونږ دپاره د خدای په حضور کې
راښکاره شي. ۲۵ هغه سپېڅلي ځای ته د دې دپاره وردننه نه شو چې خپل ځان بیا بیا د قربانۍ
په توګه وړاندې کړي لکه څنګه چې لوی کاهن هر کال د حیوان د وینې سره سپېڅلي ځای ته
ورننوځي. ۲۶ ځکه که چېرې دا ضروري وای نو مسیح به د دنیا د پیدایښت نه تراوسه پورې څو
څو ځلې مړ شوی وای، خو داسې نه ده، بلکې هغه یوازې یوځل او د تل دپاره په اخره زمانه کې
راښکاره شو، ترڅو د خپلې قربانۍ په وسیله ګناه له منځه یوسي. ۲۷ لکه څنګه چې د انسانانو په
قسمت کې یوځل مړ کېدل دي او له هغې وروسته به تر قضاوت لاندې نیول کیږي، ۲۸ نو په
همدې ډول مسیح هم یوځل د ډېرو خلکو د ګناهونو دپاره قرباني شو، خو کله چې د دوهم ځل
دپاره راښکاره شي، نو د قربانۍ دپاره نه بلکې د هغو خلکو د خلاصون دپاره به راشي چې د هغه
دپاره سترګې په لاره دي.

## د مسیح یوځل قرباني د تل دپاره

۱۰ ۱ د موسی شریعت د راتلونکو ښو شیانو یوازې یو تصویر دی او د هغو شیانو رښتینی
شکل نه دی. دغه شریعت چې د هغه له مخې کومې قربانۍ چې هر کال به وړاندې کېدلې، هېڅکله
نه شو کولای هغه خلک کامل کړي چې د خدای عبادت یې کاوه. ۲ که چېرې عبادت کوونکي
په یوځل او د تل دپاره پاکېدلی، نو نور به هغوی خپل ځانونه ګناهکار نه ګڼلی او چا به نورې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

قرباني نه کولای. ۳ بلکې دې قربانيو به هر کال هغوی ته خپل ګناهونه ور په يادول، ۴ ځکه
چې د غويانو او وزو وينه هېڅکله نه شي کولای ګناهونه لېرې کړي. ۵ له همدې امله کله چې
مسيح نړۍ ته راتللو، نو خدای ته يې وويل:

تا نه غوښتلې قرباني او نذرانې

نو ماته دې راکړ بدن

۶ په سوځېدونکو نذرانو

او د ګناه په نذرانو ته خوشحاله نه وې

۷ بيا ما وويل: «ای خدايه، زه حاضر يم چې ستا رضا پوره کړم،

لکه څنګه چې د تورات په کتاب کې زما په هکله ليکل شوي دي.»

۸ لکه څنګه چې مسيح مخکې وويل: «تا نه قرباني، نه نذرانې، نه سوځېدونکې نذرانې او نه د
ګناه نذرانې غوښتلې او نه په هغو باندې خوشحالېدلې» که څه هم هغه د شريعت له مخې وړاندې
کېدلې. ۹ بيا هغه زياته کړه: «زه راغلم چې ستا رضا پوره کړم.» بيا خدای مخکينی قرباني
باطلې کړلې، ترڅو د هغو په ځای د عيسی قرباني رامنځته کړي. ۱۰ نو په دې ډول مونږ د خدای
په ارادې او د عيسی مسيح د بدن په قربانولو سره يوځل او د تل دپاره د ګناه څخه پاک شولو.

۱۱ هر کاهن هره ورځ د قرباني د ځای په مخکې ودرېږي او خپل کار کوي او هماغه يو ډول
قربانۍ بيا بيا وړاندې کوي چې دا قرباني هېڅکله نه شي کولای چې ګناهونه له منځه يوسي. ۱۲
خو کله چې مسيح د تل دپاره د ګناهونو د له منځه وړلو په خاطر يوځل قرباني ورکړه، نو بيا هغه د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خدای ښي لاس ته کښېناست ۱۳ او د هماغه وخت نه هغه په دې انتظار دی، ترڅو د هغه
دښمنان تر پښو لاندې کړای شي. ۱۴ ځکه چې هغه د هغې يوې قرباني په ورکولو سره هغه
خلک د تل دپاره کامل کړل چې د ګناه څخه پاک شوي دي.

۱۵ مونږ ته روح القدس هم شاهدي راکوي، ځکه چې هغه اول وايي:

۱۶ دا هغه لوظ دی چې کوم به يې

د هغوی سره په هغه ورځ

بيا څښتن وايي: د هغوی زړونو کې به واچوم

زه خپل شريعت

او وبه يې ليکم د هغوی ذهنونو کې

۱۷ بيا هغه وايي:

نور به زه نه يادوم هېڅکله

ګناهونه او بد کارونه د هغوی

۱۸ نو څرنګه چې دا ګناهونه بخښل شوي دي، نور د ګناهونو دپاره د قرباني وړاندې کولو اړتيا
نشته.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## راځئ چې د خدای حضور ته ورنږدې شو

١٩ نو ای خويندو او ورونو! مونږ د عيسی مسيح د وينې په وسيله کولای شو په زړورتيا سره ډېر
سپېڅلي ځای ته ورننوځو. ٢٠ هغه مونږ ته يوه نوې او د ژوندون لاره د پردې له منځ نه چې د
هغه بدن دی، خلاصه کړه. ٢١ څرنګه چې مونږ يو لوی کاهن لرو چې د خدای د کور مسووليت
يې په غاړه دی، ٢٢ نو راځئ چې د زړه د اخلاصه او په پوره باور سره د خدای حضور ته
ورنږدې شو، ځکه چې زمونږ په ګناهکارو وجدانونو باندې د مسيح وينه شيندل شوې ده، ترڅو
مونږ پاک کړي او زمونږ بدنونه يې په پاکو اوبو وينځلي دي. ٢٣ راځئ چې هغه هيله چې مونږ
پرې اقرار کوو ټينګه وساتو، ځکه چا چې زمونږ سره وعده کړې ده، هغه وفادار دی. ٢٤ راځئ
فکر وکړو چې څنګه يو بل مينې او نېکو کارونو ته وهڅوو. ٢٥ مونږ بايد د ايماندارانو په غونډو
کې يو د بل سره په راټولېدلو کې بې‌پروايي ونه کړو، لکه څنګه چې ځينې خلک داسې عادت لري،
بلکې يو بل وهڅوو، په ځانګړې توګه اوس چې مونږ وينو چې د خدای ورځ رانږدې کېدونکې ده.

٢٦ ځکه که چېرې مونږ په حقيقت باندې په پوهېدلو سره بياهم په قصدي توګه ګناهونه کوو، نو
بيا هېڅ ډول قرباني نه شي کولای زمونږ ګناهونه لېرې کړي. ٢٧ خو يوازې د قضاوت د ورځې
وېروونکی انتظار او غضبناکه اور پاتې دی چې د خدای دښمنان به سوځوي. ٢٨ هرچا چې به د
موسی شريعت نه منلو، هغه به په بې‌رحمۍ سره د دوه يا درې شاهدانو په شاهدۍ ورکولو سره وژل
کېده. ٢٩ نو بيا فکر وکړئ چې څومره سخته سزا به ورکړل شي هغه چاته چې د خدای زوی تر
پښو لاندې کوي او د لوظ د وينې چې هغه يې پاک کړی دی، بې‌عزتي کوي او د فضل د روح
سپکاوی کوي. ٣٠ ځکه مونږ پوهېږو چې خدای وويل:

بدل اخيستل زما کار دی، زه به بدل اخلم.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او همدارنګه هغه وويل:

ښېښتن به د خپلو خلکو په هکله قضاوت کوي.

۳۱ د ژوندي خدای په لاسونو کې غورځېدل ډېر هیبتناکه دی.

۳۲ خو هغه تېر وختونه در په یاد کړئ چې د خدای نور درباندې وځلېده، نو په هغو ورځو کې
تاسو سخت کړاوونه وزغمل او ټینګ پاتې شوئ. ۳۳ تاسو به کله کله د خلکو په مخکې بې‌عزته
کېدلئ او ځورېدلئ، او کله به د نورو سره په دې شیانو کې شریکېدلئ. ۳۴ تاسو د بندیانو سره
چې په زندان کې وو، خواخوږي لرله او کله به چې ستاسو مال او دولت ستاسو نه په زور اخیستل
کېده، نو په خوشحالۍ سره به مو منل، ځکه چې تاسو پوهېدلئ چې تاسو سره له دې نه ډېر ښه او
تلپاتې مال او دولت شته. ۳۵ نو خپله زړورتیا له لاسه مه ورکوئ، ځکه که چېرې تاسو همداسې
باور ولرئ، نو لوی اجر به ترلاسه کړئ. ۳۶ تاسو ته د صبر او زغم اړتیا ده، ترڅو د خدای اراده
پوره کړئ، نو بیا به هغه څه ترلاسه کړئ چې هغه یې وعده کړې ده. ۳۷ ځکه لکه څنګه چې د
خدای کلام وايي:

پاتې دی ډېر لږ وخت او هغه څوک چې باید راشي

هغه به راشي او وبه نه کړي ځنډ

۳۸ د ایمان په وسیله به کوي ژوند زما نېکان

او څوک چې مخ واړوي ما نه

نو زه به نه یمه خوشحاله د هغه نه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٣٩ خو مونږ هغه خلک نه يو چې د خدای څخه مخ اړوي او تباه کيږي، بلکې مونږ ايمان لرو او
ژغورل کيږو.

## د ايمان په هکله لوی مثالونه

١١ ١ ايمان په هغو شيانو باندې باور لرل دي چې مونږ ورته هيله‌من يو او په هغو شيانو
باندې ټينګه عقيده لرل چې مونږ يې نه شو ليدلی. ٢ د ايمان په وسيله ؤ چې د پخوانی زمانې
خلک د خدای له خوا ومنل شول. ٣ مونږ د ايمان له مخې پوهيږو چې ټول کاينات د خدای د
کلام په وسيله پيدا شو، نو څه چې مونږ وينو هغه د هغو شيانو څخه جوړ شوي دي چې نه شي
ليدل کېدای.

٤ د ايمان په وسيله ؤ چې هابيل د قاين نه ډېره ښه قرباني خدای ته وړاندې کړه. هغه د خپل
ايمان له لارې د خدای په نظر کې عادل وګڼل شو، ځکه چې خدای د هغه نذرانې قبولې کړې او
سره له دې چې هابيل مړ شوی دی، خو د خپل ايمان له لارې تراوسه زمونږ سره خبرې کوي. ٥
د ايمان په وسيله ؤ چې خنوخ مړ نه شو او اسمان ته پورته کړای شو او هېچا هغه پيدا نه کړ، ځکه
چې خدای هغه پورته يووړ. مخکې له دې چې هغه پورته يووړل شي، د خدای کلام د هغه په هکله
شاهدي ورکوي چې خدای د هغه څخه راضي ؤ. ٦ نو پرته له ايمانه دا ناشونې ده چې انسان
دې خدای خوشحاله کړي، ځکه څوک چې غواړي خدای ته ورنژدې شي، نو بايد په دې ايمان
ولري چې هغه موجود دی او څوک چې هغه لټوي، نو هغه ته اجر ورکوي. ٧ د نوح د ايمان په
وسيله ؤ چې هغه ته د هغو شيانو په هکله خبرداری ورکړل شو چې لا تر هغه وخته نه وو پېښ
شوي. هغه اطاعت وکړ او د خپلې کورنۍ د ژغورلو دپاره يې يوه لويه کشتۍ جوړه کړه. هغه د خپل
ايمان له لارې دنيا محکومه کړه او د ايمان له مخې عادل وګڼل شو.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۸ کله چې خدای ابراهیم ته امر وکړ چې خپل کور پرېږدي او هغه ځای ته لاړ شي چې خدای
به يې ورته د میراث په توګه ورکړي، د ایمان په وسیله ؤ چې هغه اطاعت وکړ او بې له دې چې پوه
شي چېرته ځي، د خپل وطن نه ووت. ۹ د ایمان په وسیله لکه د يو پردي په شان په هغه وطن
کې چې خدای ورسره وعده کړې وه، اوسېده او د اسحاق او یعقوب سره هم چې د دې وعدې
وارثان وو، په خېمو کې اوسېدل. ۱۰ ځکه چې ابراهیم د هغه ښار د ليدلو هيله درلودله چې ټینګ
بنیاد لري او نقشه جوړوونکی او ودانوونکی يې خدای دی. ۱۱ د ایمان په وسیله ؤ چې ساره
وکولای شول ماشوم وزېږوي، که څه هم هغه شنډه او ډېره زړه وه، ځکه چې هغې باور درلود چې
خدای په خپله وعده باندې وفا کوي. ۱۲ له همدې امله د يو سړي نه چې د مړي په شان ؤ، لکه
په اسمان کې د ډېرو زیاتو ستورو او د بحیرې د غاړې د شګو په شان يې بې‌شمېره اولادونه پیدا
شول.

۱۳ هغه ټول خلک مړه شول، خو تر مرګه پورې په خپل ایمان کې پاتې شول، که څه هم هغوی
هغه څه ترلاسه نه کړل چې وعده ورسره شوې وه. هغوی هغه شیان د لېرې څخه ولیدل، خو بیاهم
خوشحاله وو او اقرار يې وکړ چې دوی په دې دنیا کې پردي او مسافر دي. ۱۴ ځکه کوم خلک
چې داسې خبرې کوي، د هغو نه دا معلومېږي چې هغوی د خپل ځان دپاره د يو وطن په لټه کې
دي. ۱۵ که چېرې هغوی د هغه وطن ارمان کاوه چې ورڅخه راوتلي وو، نو د هغوی دپاره دا
موقعه وه چې بېرته هلته لاړ شي. ۱۶ خو هغوی د يو ډېر ښه ځای یعنې اسماني وطن په لټه کې
وو. نو له همدې امله خدای په دې نه شرمېږي چې د هغوی د خدای په نوم یادېږي، ځکه چې د
هغوی دپاره يې يو ښار تیار کړی دی.

۱۷ د ایمان په وسیله ؤ چې کله خدای ابراهیم ازمایه، نو هغه اسحاق د قربانۍ په توګه خدای ته
وړاندې کړ. دا سړی چې خدای ورسره وعده کړې وه، دې ته تیار شو چې خپل یوازېنی زوی
خدای ته قرباني کړي، ۱۸ که څه هم خدای هغه ته ویلي وو: «ستا نسل به د اسحاق څخه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

حساب شي.» ۱۹ ابراهيم په دې فکر ؤ چې خدای کولای شي اسحاق د مرګ نه بېرته راژوندی
کړي، نو خدای ابراهيم ته خپل زوی هماغسې بېرته ورکړ. ۲۰ د ايمان په وسيله ؤ چې اسحاق
خپلو دوو زامنو، يعقوب او عيسو ته د هغوی د راتلونکي په پام کې نيولو سره برکت ورکړ. ۲۱ د
ايمان په وسيله ؤ چې کله يعقوب مړ کېده، نو د يوسف دواړو زامنو ته يې برکت ورکړ او په داسې
حال کې چې په خپله امسا باندې يې تکيه وهلې وه، د خدای عبادت يې وکړ. ۲۲ د ايمان په
وسيله ؤ چې کله يوسف مړ کېده، نو د مصر څخه يې د اسراييلو د وتلو په هکله خبرې وکړې او د
خپل مړي د ښخولو په اړه يې هغوی ته لارښوونې وکړې.

۲۳ د ايمان په وسيله ؤ چې کله موسی وزېږېده، مور او پلار يې وليدل چې هغه يو ښکلی ماشوم
دی، نو هغوی د پاچا د حکم څخه ونه وېرېدل او هغه ماشوم يې درې مياشتې پټ وساته. ۲۴ د
ايمان په وسيله ؤ کله چې موسی لوی شو، نو د دې نه يې انکار وکړ چې هغه دې د فرعون د لور د
زوی په نوم ياد شي. ۲۵ هغه د يو لنډمحاله مودې د عيش او عشرت او د ګناه څخه ډک ژوند په
ځای د خدای د خلکو سره د بد چلند زغمل غوره وګڼل. ۲۶ هغه د مسيح په خاطر د بې‌عزتۍ
زغمل د مصر د ټولو خزانو نه بهتر وګڼل، ځکه چې هغه خپل راتلونکي اجر ته سترګې په لاره ؤ.
۲۷ د ايمان په وسيله ؤ چې موسی د مصر څخه راووت او د فرعون د قهر څخه ونه وېرېده او په
حوصله يې خپلې لارې ته دوام ورکړ، ځکه چې د هغه نظر په نه‌ليدونکي خدای ؤ. ۲۸ د ايمان په
وسيله ؤ چې موسی د اسراييلو خلکو ته حکم وکړ چې د فسحې اختر جوړ کړي او د حيواناتو وينه
د دروازو په چوکاټونو باندې وشيندي، ترڅو د مرګ فرښته د اسراييلو لومړني زېږېدلي اولادونه ونه
وژني.

۲۹ د ايمان په وسيله ؤ چې د اسراييلو قوم د سرې بحيرې نه داسې پورې وتل لکه په وچه
ځمکه چې تېر شي، خو کله چې مصريانو د پورې وتلو کوښښ وکړ، نو ډوب شول. ۳۰ د ايمان
په وسيله ؤ چې د اسراييلو خلک د اريحا د ښار نه اووه ورځې ګردچاپېره وګرځېدل او وروسته بيا

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د ښار دېوالونه راوغورځېدل. ۳۱ د ايمان په وسيله ؤ چې بدلمنه راحاب د نورو نافرمانه خلکو
سره يوځای ونه وژل شوه، ځکه چې هغې اسراييلي جاسوسانو ته دوستانه هرکلی ويلی ؤ.

۳۲ نور زه څه ووايم؟ ځکه چې زما زيات وخت نشته چې د جدعون، باراق، شمشون، يفتاح،
داود، سموييل او نورو پيغمبرانو په هکله خبرې وکړم. ۳۳ هغوی د ايمان په وسيله پاچاهيګانې
فتح کړې او عدالت يې ټينګ کړ او هغه شيان يې ترلاسه کړل چې خدای ورسره وعده کړې وه.
هغوی د زمريانو خولې بندې کړې، ۳۴ د اور لمبې يې مړې کړې او د تورې د خولې نه خلاص
شول. هغوی کمزوري وو، خو قوي شول. په جنګ کې زورور شول او د پرديو لښکرې يې تېښتې
ته مجبورې کړې. ۳۵ ښځو خپل مړي بيا ژوندي وموندل. ځينو نورو ډېر کړاوونه وليدل، خو
ازادي يې ونه منله، ترڅو د قيامت په ورځ له دې نه ډېر ښه ژوند ومومي. ۳۶ په ځينو باندې
ملنډې ووهل شوې، په دورو ووهل شول، نور په زنځيرونو وتړل شول او بنديان شول. ۳۷ هغوی
سنګسار شول، په اره باندې نيم کړای شول او په تورو باندې يې مړه کړل. هغوی د پسونو او وزو
پوستکي اغوستي وو او د ډېرې غريبۍ، ظلم او کړاوونو له امله سرګردانه وو. ۳۸ دنيا د دې خلکو
لياقت نه درلود. هغوی په دښتو او غرونو کې سرګردانه ګرځېدل او په غارونو او سمڅو کې اوسېدل.

۳۹ د خپل ايمان په وسيله د هغوی ټولو ښه ستاينه وشوه، خو بيا يې هم هغه څه ترلاسه نه کړل
چې خدای يې وعده کړې وه. ۴۰ ځکه چې خدای زمونږ دپاره له مخکې نه ډېر ښه شی درلود
چې وروسته به يې راکړي، هغه دا چې هغوی به زمونږ سره کامل کړای شي.

## د څښتن له خوا زمونږ اصلاح

۱۲ ۱ نو اوس چې د شاهدانو دومره لويه ګڼه‌ګوڼه زمونږ څخه راچاپېره ده، نو راځئ چې هر
اضافي بار يعنې هره ګناه چې په اسانۍ سره مو راګېروي، د خپل ځان نه لېرې کړو او په صبر او

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زغم سره په هغې سیالۍ کې منډه ووهو چې زمونږ په وړاندې پرته ده. ۲ خپلې سترګې د عیسی
یعنې زمونږ د ایمان د بنیاد ایښودونکي او کامل کوونکي خواته ونیسو. هغه په صلیب باندې د مړ
کېدلو شرم وزغملو خو شرم یې مهم ونه ګڼلو، ځکه چې په دې پوهېده چې په دې کار سره به هغه
په راتلونکې کې خوشحاله وي او اوس هغه د خدای د تخت ښي لاس ته ناست دی.

۳ د هغه په هکله فکر وکړئ چې د ګناهکارانو له خوا د څومره مخالفتونو سره مخ شو، نو خپله
حوصله له لاسه مه ورکوئ او بې‌زړه کېږئ مه. ۴ تاسو لا تراوسه د ګناه په خلاف جنګ کې تر
دې حده نه یئ رسېدلي چې وینه مو په کې تویه شوې وي. ۵ ایا تاسو دا هېر کړي دي چې
خدای درته لکه د خپلو اولادونو په شان نصیحت کوي:

ای زما زویه! کله چې تا اصلاح کوي څښتن

نو هغه مه ګڼه سپک

او کله چې هغه رټي تا، نو نااميده کېږه مه

۶ ځکه څښتن چې کوي مینه د کوم چا سره

نو اصلاح کوي هغه

او هغه چاته ورکوي سزا

چې قبلوي یې د خپل زوی په توګه

۷ تاسو اصلاح وزغمئ، ځکه چې دا زغم دا ښايي چې خدای تاسو سره د خپلو اولادونو په

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شان چلند کوي. ایا تاسو کله داسې اولاد لیدلی دی چې د خپل پلار له خوا اصلاح شوی نه وي؟
٨ که چیرې تاسو د هغه د نورو اولادونو په شان اصلاح نه شئ، نو دا په دې معنی ده چې تاسو
د هغه رښتیني اولادونه نه یئ، بلکې حرامیان یئ. ٩ برسېره پردې، مونږ ټولو پلرونه درلودل چې
مونږ یې اصلاح کولو او مونږ د هغوی درناوی کاوه. نو مونږ به د دې نه څومره زیاته د هغه چا
تابعداري وکړو چې زمونږ روحاني پلار دی او مونږ ته ژوند راکوي. ١٠ زمونږ دنیاوي پلرونه لکه
څنګه چې هغوی ته ښه ښکاري، مونږ اصلاح کړي یو، خو د خدای اصلاح زمونږ د ښېګڼې دپاره
ده، ترڅو مونږ د هغه په پاکوالي کې شریک شو. ١١ هره اصلاح په خپل وخت کې
خوشحالوونکې او خوندوره نه وي بلکې دردناکه وي، خو وروسته بیا د هغو خلکو دپاره چې په
دې ډول روزل شوي دي، د یو رښتیني ژوند د ارامۍ یوه مېوه وي.

١٢ نو له دې امله خپل ناتوانه لاسونه او کمزورې پښې قوي کړئ. ١٣ د خپلو قدمونو دپاره
لاره سمه کړئ، ترڅو په تاسو کې د ځینو ګوډې پښې کمزورې او ناتوانه نه شي بلکې روغې شي.

## لارښوونې او خبرداری

١٤ کوښښ وکړئ چې د هرچا سره په سوله او سلامتۍ کې ژوند وکړئ او پاک او سپېڅلي اوسئ،
ځکه چې د هغه پرته به هېڅوک څښتن ونهویني. ١٥ پام کوئ، هسې نه چې په تاسو کې څوک
د خدای د فضل نه بېبرخې شي او ستاسو په منځ کې کوم څوک ترخې او زهرجنې ریښې وځغلوي
چې د تکلیف سبب شي او د هغه له امله ډېر خلک فاسد شي ١٦ او ګورئ چې په تاسو کې دې
څوک زناکار یا د عیسو په شان بېدینه نه شي چې د یوې مړۍ ډوډۍ دپاره یې د خپل مشرتوب
حق خرخ کړ. ١٧ نو تاسو پوهېږئ سره له دې چې وروسته هغه غوښتل چې د برکت میراث
ترلاسه کړي، خو هغه رد شو، ځکه چې د هغه دپاره د توبې ویستلو موقعه پیدا نه شوه، که څه هم
هغه د اوښکو په تویولو سره د هغه برکت په لټه کې ؤ.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۸ تاسو لکه د اسراییلو د خلکو په شان د موسی په وخت کې د سینا غره ته چې د اور لمبې،
سخته تیاره او توفان ؤ، راغلي نه یئ. ۱۹ کله چې خلکو د سرني او یو ډېر وېرووونکی اواز
واورېد، نو زاری یې وکړې چې خدای دې نور زمونږ سره خبرې ونه کړي. ۲۰ ځکه چې هغوی د
خدای دا حکم ونه شو زغملی چې وایي: «که چېرې یو حیوان هم په دې غره باندې پښه کېږدي، نو
هغه باید سنګسار شي.» ۲۱ هغه منظره دومره وېرووونکې وه چې موسی وویل: «زه د وېرې نه
رپېږم.» ۲۲ خو تاسو د صهیون غره او د ژوندي خدای ښار یعني اسماني اورشلیم ته چې
بې‌شمېره فرښتې په کې خوشحالي کوي، راغلي یئ. ۲۳ تاسو د خدای د لومړني زېږول شویو
اولادونو غونډې ته چې نومونه یې په جنت کې لیکل شوي دي، راغلي یئ. تاسو خدای ته چې د
ټولو قاضي دی او د نېکانو روحونو ته چې کامل شوي دي، راغلي یئ. ۲۴ تاسو عیسی ته چې د
خدای او خلکو ترمنځ د نوي لوظ منځګړی دی او د هغه وینه د هابیل د وینې نه ډېر ښه پیغام
ورکوي، راغلي یئ.

۲۵ نو پام کوئ چې د هغه چا نه انکار ونه کړئ چې تاسو ته خبرې کوي. کله چې خلکو د هغه د
اطاعت کولو نه انکار وکړ چې د ځمکې نه یې هغوی ته خبرې کولې او تېښته یې ونه کړه، نو که
تاسو د هغه چا نه انکار وکړئ چې د اسمان نه ستاسو سره خبرې کوي، نو فکر کوئ چې تاسو به
وکولای شئ وتښتئ؟ ۲۶ په هغه وخت کې د خدای اواز ځمکه ولړزوله، خو اوس هغه وعده کړې
ده: «یوځل بیا به زه یوازې ځمکه نه بلکې اسمان هم ولړزوم.» ۲۷ د هغه دا خبره یعني «یوځل
بیا» دې ته اشاره کوي چې هغه شیان چې خلق شوي دي هغه به ولړزول شي، ترڅو نه لړزېدونکي
شیان پاتې شي.

۲۸ نو راځئ چې د هغې نه لړزېدونکې پاچاهۍ په خاطر چې خدای یې مونږ ته راکوي،
شکرګزاري وکړو او په درناوي او وېرې سره داسې عبادت وکړو چې هغه ته د منلو وړ وي. ۲۹
ځکه چې زمونږ خدای تباه کوونکی اور دی.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## خدای څنګه خوشحالولی شو؟

١٣ ١ د خویندو او ورونو په شان یو د بل سره مینه کوئ. ٢ دا مه هېروئ چې باید د
مسافرو مېلمهپالنه وکړئ، ځکه چې ځینو خلکو داسې کړي دي او هغوی د فرښتو مېلمهپالنه کړې
ده که څه هم هغوی یې نه دي پېژندلې. ٣ هغه کسان چې په زندان کې دي داسې یادوئ لکه
چې تاسو ورسره په زندان کې یئ. هغه کسان در په یادوئ چې ظلم ورسره کیږي، نو داسې وګڼئ
لکه تاسو چې کړاوونه وینئ. ٤ ټول باید واده ته درناوی ولري او ښځې او مېړونه باید یو بل ته
وفادار اوسي، ځکه چې خدای به بداخلاقه او زناکاره خلک محکوم کړي. ٥ په خپل ژوند کې د
پیسو سره د مینې کولو نه ځان لیرې وساتئ او څه چې لرئ په هغو باندې قناعت وکړئ، ځکه چې
خدای ویلي دي: «زه به هېڅکله تاسو یوازې پرېنږدم او هېڅکله به مو نه هېروم.» ٦ نو مونږ په
ډاډه زړه ویلی شو:

زما مرستندوی دی څښتن

نه به وېرېږمه زه

څه کولای شي انسان ما سره؟

٧ خپل مشران چې تاسو ته یې د خدای کلام بیان کړ، په یاد ساتئ. د هغوی د ژوند د لارو او
څرنګوالي په هکله فکر وکړئ او د هغوی ایمان د ځان دپاره مثال وګرځوئ. ٨ عیسی مسیح
پرون، نن او د تل دپاره یوشان دی. ٩ د هر ډول عجیبه تعلیمونو له امله مه بې‌لارې کېږئ. دا
ښه ده چې زمونږ زړونه د خدای په فضل باندې قوي شي، نه په مذهبي قوانینو پورې تړلي خوړو
باندې، ځکه کوم خلک چې دا قانون په مخ وړي هېڅ ګټه ورته نه رسیږي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۰ مونږ داسې د قربانۍ ځای لرو چې حتی هغه کاهنان چې هلته په سپېڅلې خېمه کې خدمت
کوي، د هغې قربانۍ د خوړلو حق نه لري. ۱۱ ځکه چې لوی کاهن به د حیواناتو وینه د ګناه د
قربانۍ په توګه ډېر سپېڅلي ځای ته وړله، خو د هغوی مړي د کمپ نه دباندې سوځول کېدل. ۱۲
نو له دې امله عیسی هم د ښار د دروازې نه دباندې کړاوونه وزغمل او مړ شو، ترڅو د خپلې وینې
په وسیله خلک د ګناه څخه پاک کړي. ۱۳ نو راځئ چې هغه ته د کمپ نه دباندې ورشو او هغه
بې‌عزتي وزغمو چې هغه زغملې وه. ۱۴ ځکه چې په دې دنیا کې زمونږ دپاره هېڅ داسې ښار
نشته چې د تل دپاره پاتې وي، خو مونږ د هغه ښار په لټه کې یو چې په راتلونکې کې به موجود
وي.

۱۵ نو راځئ چې د عیسی په وسیله د قربانیو په توګه تل د خدای ثنا او صفت وکړو، یعنې په
خپلو خولو د هغه د نوم اقرار وکړو. ۱۶ نېکي کول او د نورو سره مرسته کول مه هېروئ، ځکه
چې خدای په داسې قربانیو خوشحالیږي.

۱۷ د خپلو مشرانو اطاعت کوئ او څه چې درته وایي هماغسې کوئ. هغوی په تاسو باندې پام
کوي او خدای ته به حساب ورکوي. نو پرېږدئ چې هغوی دا کار په خوشحالۍ سره وکړي، نه په
خفګان. که نه، نو تاسو ته به یې ګټه ونه رسیږي. ۱۸ زمونږ دپاره دعا کوئ. مونږ ډاډمن یو چې
زمونږ وجدان پاک دی او غواړو چې په هر لحاظ د عزت ژوند وکړو. ۱۹ زه ستاسو نه په کلکه
غوښتنه کوم چې دعا وکړئ، ترڅو ډېر زر بېرته تاسو ته راشم.

## وروستۍ دعاګانې

۲۰ اوس دې د سولې او سلامتۍ خدای چې د تلپاتې لوظ د وینې په وسیله یې زمونږ ښښتن
عیسی چې لوی شپون دی، د مړو نه بېرته راژوندی کړ، ۲۱ نو هغه دې د خپلې رضا پوره کولو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دپاره په خپلو ټولو ښو کارونو کې تيار کړي او د عيسی مسيح په وسيله دې په مونږ کې هغه کارونه
وکړي چې هغه پرې خوشحاليږي. د هغه جلال دې تل ترتله وي. امين.

## وروستني سلامونه

٢٢ ای خويندو او ورونو! ستاسو نه په کلکه غوښتنه کوم چې زما نصيحت په صبر او حوصلې
سره واورئ، ځکه چې هغه مې درته په لنډ ډول ليکلی دی. ٢٣ زه غواړم تاسو خبر شئ چې
زمونږ ورور تيموتاوس د زندان نه خلاص شوی دی. که هغه زر دلته راشي، نو هغه به زما سره
ستاسو ليدو ته درشي. ٢٤ خپلو ټولو مشرانو او ايماندارانو ته زمونږ سلامونه ووايئ. د ايټاليې
ايمانداران هم تاسو ته خپل سلامونه وايي. ٢٥ په تاسو ټولو دې د خدای فضل وي.

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.9066
afghanbibles.org © افغانستان ٢٠٢٣
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.